


# دیخنۍ په باره کښې مزیدار معلومات

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د يخنئ په باره كښې مزيدار معلومات

**دُعائے عطار:** يا الله پاكه! څوك چې دا رِساله "**د يخنئ په باره كښې مزيدار معلومات**" اولولي يا ئې واوري هغه د جَهنَّم د هر عذاب خصوصاً د يخوالي د سخت عذاب نه اُوساتې او جنّت الفردوس ته ئې بے حسابه داخِل كړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دَ دُرود شريف فضيلت

حضرت سَيِّدُنا علامه محمد بن سخاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل كتاب "اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع" چې د دُرودِ پاك په باره كښې ليكلے شوے دے، په هغې كښې فرمائي: يو نيك كس به په مِصر كښې اُوسيدلو، او هغه د ابو سعيد الخَيَّاط په نوم باندې مشهور وو هغه به د خلقو نه لرې يواځې اُوسيدلو او خلقو سره به نه مِلاويدو. بيا ناڅاپه هغه د حضرت سَيِّدُنا ابن رشيق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په محفِل كښې په پابندئ سره شركت كول شروع كړل، خلق ډير حيران شول او د هغه نه ئې د دې د سبب تپوس اوكړو نو هغه اووئيل چې: د الله پاك آخِري نبي، مُحَمَّدِ عَرَبِي مَكِّي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په خوب كښې تشريف راوړلو او ماته ئې اوفرمائيل: د دوئې محفِل كښې حاضري كوه ځكه چې دوئي په خپل محفل كښې په ما باندې ډير زيات درود شريف لولي.

(القول البديع، ص۱۱)

بيا چې كله حضرت اِبنِ رَشِيق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شولو نو چا په خوب كښې په ښه حالت كښې اُوليدلو نو عرض ئې ورته اوكړو چې: د دې اِنعامونو د ملاويدلو څه

سبب دے؟ هغوئي ارشاد اوفرمائيل: په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره درودِ پاك وئيل. (الصلات والبشر، ص٦٢)

ذاتِ والا پہ بار بار دُرُود بار بار اور بے شُمار دُرُود
بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے ہو اِلٰہی مِرا شِعار دُرُود

## د نبي كريم ﷺ په دُعا باندې يخنې لرې شوه

جنّتي صحابي حضرت سيّدنا بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما په ډيره سخته يخه شپه کښې د سَحَر اذان اُوکړو خو جُمات ته هيڅ څوك هم رانَغلَل، لږ ساعت پس مې بيا اذان اوکړو خو دا ځل هم څوك رانَغلل. چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا معامله اُوليدله نو اُوئې فرمائيل: "**په خلقو څه اوشو**"؟ ما عرض اوکړو: "ډيرې زياتې يخنۍ خلق جمات ته د راتلَلو نه حِصار کړي دي." نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **يا الله پاکه! "د خلقو نه يخني لرې کړې.**" حضرت سيدنا بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: (يخني داسې لرې شوه) چې ما خلق د سحر په وخت کښې د ګرمۍ په وجه ځان ته په ببوزي [پکې] وهلو اوليدل. (كتاب الضعفاء للعقيلي ٩٨١)

اِجابَت کا سہرا عنایت کا جوڑا دُلہن بن کے نِکلی دُعائے محمد
اِجابَت نے جُھک کر گلے سے لگایا بڑھی ناز سے جب دُعائے محمد

الفاظ و معاني: اِجابَت: قبوليت. جوڑا: لباس. ناز: فخر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دَ څلورو موسمونو نعمت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** الله پاك څلور موسمونه پيدا کړي دي، ژمے [د يخنۍ موسم]، اوړے [د ګرمۍ موسم]، سپرلے او خزان. د هر موسم خپل خصُوصِيات

دي او د هر يو خپل خوَند او مزه ده او خاص ميوے او سبزيانې ئې دي. د ګرمۍ په موسم کښې بعضې فصلونه پخيږي، چې هغه د انسان د اهمو ضروورياتو نه دي او دغسې [په ګرمۍ کښې د بدن نه خوَله اُوځي او] د خَوَلے په ذريعه د بدن نه ډيرې بيمارۍ اُوځي. د يخنۍ په موسم کښې اُوچې ميوے کيږي چې د انسان د بدن د پاره ډيرې فائده مندې دي. د سپرلي په موسم کښې هر طرف ته شينکۍ شينکۍ وي او ښکلي ښکلي رنګ په رنګ ګلونه کيږي، په دُنيا کښې داسې ملکونه چې هلته څلور موسمونه راځي ډير کم دي، بعضې ملکونو کښې خو ټول کال يا د کال په اکثرو ورځو کښې يخني وي او بعضې ځايونو کښې ګرمي، **د الله پاك د رحمت نه قربان شم!** چې زمونږ په ګران وطن [پاکستان] کښې په کال کښې دا څلور واړه موسمونه راځي. د الله پاك پيدا کړے هر څيز، هر موسم ښه دے او د موسم په بدليدلو کښې د **الله** پاك بيشميره حکمتونه دي. زمونږه کمزورو خلقو زړه ډير زر تنګيږو، چې ګرمي ډيره وي نو وايو چې يَخني ښه ده کاش! چې يخني زر راشي، او چې کله يخني ډيره شي نو بيا وايو چې ګرمي راشي نو ښه به وي. که ګرمي زياته شي او که يخني، په هر حال کښې د صبر نه کار اخِستل پکار دي، يخنۍ او ګرمۍ ته بد وئيل **ډيره بده خبره** ده، د کوم موسم کِيله کوَل داسې دي لکه يو قِسم د موسم پيدا کوونکي **ربّ** تعالیٰ نه چې خوک کِيله کوي، يعني داسې ده لکه خوک چې وائي چې اوګوره! **الله** پاك يخني يا ګرمي دومره زياته کړې ده!

## زمانے ته بَد وئيل څنګه دي؟

بخاري شريف حديث نمبر 6181 کښې **الله** پاك اِرشاد فرمائي: بنده زمانے ته ګَنځلې کوي حالانکه زمانه (جوړوونکے) خو زه يم او د دې شپې او ورځې خو هُم زما په قبضهٔ قُدرت کښې دي. (بخاري٤، حديث)

صحيح مُسلِم حديث نمبر 2246، د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: زمانے ته بد مه وائۍ ځكه چې **زمانه الله پاك پيدا كړي ده.** (مُسلِم، ص، حديث)

شارحِ مُسلِم، حضرت سيدُنا امام شرفُ الدّين نوَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: عُلماءِ كرام فرمائي: چې په الله پاك باندې د زمانے اطلاق مجازي طوَر شوے دے د دې سبَب دا دے چې د عرَبو عادت وُو چې د مرګ، بوډا والي يا د مال په ضائع كيدلو، په [نورو] داسې حادِثو او مُصيبتونو به هغوئي زمانے ته بد وئيل او داسې به ئې وئيل: "**هائے د زمانے بربادي**"، نو د **الله** پاك آخِري نبي، مكّي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيل: زمانے ته بد مه وائې ځكه چې زمانه الله پاك پخپله دے يعني د دې حادِثاتو او مُصيبتونو پيدا كوونكے **الله** پاك پخپله دے او هُم هغه د دې نازِلَوونكے دے، چې تاسو مُصيبتونو ته بد وائې نو دا په حقيقت كښې الله پاك ته بد وئيل دي ځكه چې د دې پيدا كوونكے او د دې فاعِل ( يعني حالات بدلوونكے ) صرف الله پاك دے. (شرح صحيح مُسلِم)

سب کا پیدا کرنے والا' میرا مولا میرا مولا
سب سے افضل سب سے اعلیٰ' میرا مولا میرا مولا
جگ کا خالق سب کا مالک' وہ ہی باقی' باقی ھالک
سچا مالک سچا آقا' میرا مولا میرا مولا

**الفاظ و معاني: جگ**: دُنیا. **ھالک**: فنا کیدونکے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يخني او ګرمي څنګه راځي؟

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** آيا تاسو ته معلومه ده چې د ګرمۍ او يخنۍ راتللو اصل سبَب څه څيز دے؟ چنانچې بُخاري شريف حديث نمبر 537 او 538 كښې

دي: دوزخ د خپل **ربّ** په بارګاه کښې شِکايت اُوکړو چې زما بعضې حِصَّو زما بعضې حِصَّے اُوخوړلې نو هغه ته دوه ځله د ساه اخِستلو اجازت ورکړے شو، يوه ساه په ګرمئ کښې او يوه ساه په يخنئ کښې. دا هغه تيزه ګرمي او يخوالے دے چې تاسو ئې محسوسوئ او د بُخاري شريف په يو روايت کښې داسې دي "**چې کومه تيزه ګرمي تاسو محسوسوئ دا د دوزخ ګرمه ساه ده او چې کوم تيز يخوالے تاسو محسوسوئ دا د هغې يخه ساه ده**" (بخاري ۱/۹۱، حديث [illegible])

**حضرت** مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دوزخ چې کله په بَره ساه اخلي يو په دُنيا کښې عموماً د يخنئ زور شي او چې کله ښکته ساه پريږدي نو عموماً د ګرمئ زياتوالے شي، دا حديث بالکل په ظاهري معنیٰ دے، د هيڅ تاويل او توجِيه ضرورت نِشته، هر خيز ته **الله** پاك ژوند او شعور ورکړے دے. (مراٰةُ المناجيح [illegible])

## د الله پاک د قُدرتِ کرِشمے

**حضرت** سيدُنا امام ابو حامد محمد بن محمد بن غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د آسمان د مينځ نه د نمر اخواه ديخواه کيدلو ته اُوګوره تر دې چې د دې په سبب د ګرمئ، يخنئ، سپرلي او خزان موسمونه بدليږي. چې کله نمر د آسمان د مينځ نه [غاړو] طرف ته ښکته شي نو هوا يخه شي او ژمے [يعني د يخنئ موسم] شي او چې کله د آسمان په مينځ کښې قرار اُونيسي نو سخته ګرمي شي او چې کله د دې دواړو تر مينځه شي نو موسم مُعتدِل (يعني درميانه) شي. (احياءُ العلوم [illegible]) سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د الله پاك د شانِ قُدرت څومره حيرانوونکي رنګونه دي. سُبْحٰنَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ يعني الله پاك د عظمت والا دے او ټول ثناء صِفَت هغه لره دي.

د اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسنّت، مولانا امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وررور شهنشاهِ سُخن، اُستاذِ زَمَن حضرت مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه څومره ښکلي شعرونه وئيلي دي:

ہر شے سے عیاں مِرے صانِع کی صنعتیں — عالم سب آئنوں میں ہے آئنہ ساز کا
اَفلاک واَرض سب تِرے فرماں پذیر ہیں — حاکم ہے تُو جہاں کے نشیب وفراز کا

**الفاظ و معاني:** عِیاں: ښکاره. صانِع: جوړوونکے. **صنعت**: خيزونه. آئینہ ساز: جوړونکے. اَفلاک: آسمان. اَرض: زمکه. فرماں پذیر: فرمانبردار. نشیب وفراز: لوړه جوَره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نادان اِنسان

**اے عاشِقانِ رسول! لږ سوچ خو اوکړئ!** دا انسان څومره نادان دے چې ګاډي ته د رسيدلو نه مخکښې په ريموټ ګاډے کولاؤ کړي، د يَخنئ راتلَلو نه مخکښې د يخنئ انتظام اوکړي، د شپې کور ته راتللو وخت کښې ځان سره د ناشتے سامان راواخلي، د ماشوم د پيدائش نه مخکښې ئې د هغه کپړے جوړې کړي وي، د روژے په ورځ د مازيګر نه د روژه ماتي تياري شروع کړي، په باران کښې د وَتَلو نه مخکښې چترئ راواخلي، او په اوږد سفر باندې د روانيدلو نه مخکښې په ګاډي کښې هوا، پټرول او اوبه چيك کړي، په تياره کښې د وَتَلو نه مخکښې ځان سره بيټري واخلي، خو مرګ چې د هغې راتلل يقيني دي د هغې د پاره هيڅ تياري نه کوي. د يخنئ او ګرمئ موسم خو په خپل وخت باندې ځي او راځي خو مونږه د خپل قبر و آخرت تياري ولې نه کوو!!!

عظيم تابعي بُزرګ ابو عبدالله صُنابِحِي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ به فرمائيل: ”مونږه باندې د يخنئ او ګرمئ موسمونه ځي او راځي تر دې چې د دنيا نه لاړ شو (يعني د آخِرت د پاره هيڅ عمل نه کوو).“ (اللہ والوں کی باتیں، ۵/۱۶۶، بتغیر)

کس بلا کی مے سے ہیں سرشار ہم          دِن ڈھلا ہوتے نہیں ہوشیار ہم

**الفاظ و معاني**: **بَلا**: مُصيبت. **مے**: نشه، مستي. **سرشار**: مدهوش، د ځان نه بے خبره. **هوشيار**: وِيښ. **شرحِ کلامِ رضا**: يا الله پاکه! شيطان مونږه (د ګناهونو او فضولياتو) په نشه کښې دومره بدمَسته کړي يُو چې ژوند تيريږي او مونږه په هوش کښې د راتلو نوم نه اخلو.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے          کوئی نہیں بھروسا اے بھائی زندگی کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# هر مُشکِل آسان

حضرتِ سليمان دَاراني رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: د نفس مخالِفت کول اَفضل ترِين عمل دے. (تفسير کبير ۳) د حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د فرمان خلاصه ده: څوک چې د ايمان خوږوالے حاصل کړي هغه لوئ لوئ تکليفونه په خوشحالئ سره برداشت کوي لکه په يخنئ کښې لـمونځ کول، [دغسې] د کربلا ميدان د دې د هميشه د پاره مثال دے. (مرآة المناجيح ۳)

# د مُؤمنانو د سپرلي موسم

اے **عاشِقانِ رسول**! يخني د مومِن بنده د پاره د سپرلي موسم دے ځکه چې کله د يخنئ موسم راشي نو مؤمن بنده د لَوَږې او تَندې او مشقت نه بغير روژه نيولے شي ځکه چې ورځ وړه او يخه وي لهذا د روژے تکليف دومره نه محسوسيږي.

چنانچې نبي ڪريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د ىخنۍ روژے يخ غنيمت دے. (ترمذي ۸۲، حديث ۷) په يو بل مقام ڪښې نبي ڪريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د ىخنۍ موسم د مومن د پاره "**د سپرلي موسم**" دے چې په دې ڪښې ورځې ورې وي نو مومنان پڪښې روژه نيسي او د دې شپې اوږدے وي نو هغوئي په دې ڪښې قيام ڪوي (يعني نوافِل وغيره پڪښې ڪوي). (شعب الايمان ۳، حديث ۴)

## ىخنۍ ته ښخير راغلے

حضرت عبدُالله اِبنِ مسعود به د ىخنۍ په راتلو باندې فرمائيل: ىخنۍ ته په ښخير راغلے وايُو، په دې ڪښې د **الله** پاڪ رحمتونه نازلېږي چې د شپې عبادت ڪوونڪو د پاره شپې اوږدے دي او روژه نيولو والؤ د پاره د دې ورځې لنډې وي. (فردوس الاخبار ۲، حديث ۸)

## په هر قَدم نيڪۍ

"بنو سَلِمه" د انصارو يوه قبيله وه د هغوئي ڪورونه د **مَسْجِدُ النّبَوِيّ الشَّرِيف** نه لرې وو، هغوئي به د شپې په تياره ڪښې، په باران ڪښې، او په سخته ىخنۍ ڪښې هُم د جَمعې د لـمانځه ڪوشش ڪولو. د خپل امّت سره ډير محبّت لرونڪي خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته خوشخبري ورڪړه چې "**ستاسو په هر قدم نيڪۍ ليڪلے ڪيږي.**" (مرقاة المفاتيح ۲، تحت الحديث ۷، مسلم، حديث ۸، ص)

## مخڪښې ورُوستو ګناهونه مُعاف

د مُسلمانانو دريم خليفه حضرت سَيِّدُنا عُثمان غني ذُوالنُّورَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ىخنۍ په يوه يخه شپه ڪښې لـمانځه له د تللو اراده اوڪړه نو د اَوداسه د پاره ئې اوبه را اُوغوښتلې بيا ئې مخ او دواړه لاسونه اُووِينځل. غلام عرض اوڪرو: الله پاڪ دِ ستاسو مَل شي شپه خو ډيره يخه ده. هغوئي اوفرمائيل: ما د نبي ڪريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے

دے چې "کوم بنده چې کامِل (يعني پوره) اودس اوکړي نو د هغه تير شوي او راروان ګناهونه به معاف کړے شي." (الترغيب والترهيب ۱/۳۱، حديث۱)

## دوه احاديثِ مبارکه

﴿۱﴾ چا چې په سخته يخنۍ کښې کامِل اودس اوکړو د هغه د پاره د ثواب دوه حِصّے دي. (مجمع الزوائد ۱/۵۸۰، حديث۲)

﴿۲﴾ د مشقّت په وخت کښې اودس کوونکي ته به په ورځ د قيامت د عرش سورے نصيب کيږي. (اتحاف ۲/۳۵۸، حديث۱)

دے شوقِ تِلاوت، دے ذوقِ عبادت رہوں باوضو میں سَدا یا اِلٰہی
میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت ہو توفیق ایسی عطا یا اِلٰہی
میں پڑھتا رہوں سُنّتیں وقت ہی پر ہوں سارے نَوافِل ادا یا اِلٰہی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکو نه ډك سوچ

حضر ت سيدنا حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ژمے [يعني د يخنۍ موسم] د مومن بنده [د پاره] خومره ښه زمانه ده! شپه اوږده وي، بنده د شپې د لـمانځه د پاره قيام کوي او ورځ لنډه وي نو بنده روژه اُونيسي. (لطائف المعارف، ص۳۲۷)

حضرت سيدنا عُبَيد بن عُمَير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله ژمے راشي نو اَهلِ قرآن ته اُووئيلے شي چې ستاسو د لـمانځه د پاره شپه اوږده شوه او د روژو د پاره ورځ لنډه شوه. (احاديث الشتاء للسيوطي، ص۳۷)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ژوند ډير مُختصر دے مونږ مُسلسل مرګ ته نزدے کيږو، د ژوند يو څو ساکاني چې پاتې دي دا غنيمت اوګڼړۍ او د الله پاك او د رسولُ

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې ئې تيرې کړېږ، د يخنۍ په مُشقّت باندې صبر اوکړېږ او ثواب اوګټئ ځکه چې اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ اَحْمَزُهَا (يعني افضل ترين عمل هغه دے چې په هغې کښې مُشقّت ډير وي.) ډير ډير عبادت کوئ، په سنّتو باندې عمل کوئ، ډير ډير د نيکئ دعوت ورکوئ، په مَدَني قافِلو کښې سفر کوئ او د ”نيك اعمال“ په رِساله [کښې د خپلو اعمالو د جائزے مطابق خانے] ډکوئ او په قلاره قلاره په هغې باندې خپل عمل زياتوئ، که يخني مو کيږي، او بدن مو د يخنۍ نه رپيږي، [نو بيا هُم] اودس کوئ او د جَمعې د لـمانځه اهتمام کوئ، ځکه چې حضرت اِبراهيم بن اَدهم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم عمل چې په دُنيا کښې خومره مُشکل وي په ميزانِ عمل [يعني د اعمالو په تَله] کښې به هغه هُمره وزن دار وي. (تذکِرة الاولياء، ص٩)

## روژه ئې پرينښودله

په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې يو ځل صدرالشَّرِيعه مولانا مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې د يخنۍ سخته تبه راغله، ډيره يخني به ئې کيدله او تبه به هُم پرې راتلله او د نا قابِل برداشت حده پورې به تږے کيدلو هُم، د ماسپښين نه پس به پرې ډيره يخني راغله او بيا به پرې تبه راغله خو قربان شم! چې په داسې صورت کښې به ئې هم روژه نه پرېښودله. (تذکِره صدرالشريعه، ص٣)

اے عاشِقانِ رسول! په حديث مبارك کښې دي: چا چې د ورځې په شروع کښې قرآن ختم کړو فرښتے د ماښامه پورې د هغه د پاره د بخښنې دعاګانې کوي او چا چې د شپې

په اوله حصه کښې قرآن ختم کړو، [فرښتے] د سحره پورې [د هغه د پاره] اِستغفار کوي. (غنية المتملي، ص[illegible])

**بهارِ شريعت جلد 1 صفحه 551 کښې ليك دي:** ولې چې په ګرمۍ کښې ورځ اُوږده وي نو د سحر په وخت کښې د ختم کولو په صورت کښې به اِستِغفارِ ملائکه (يعني د فرِښتو دعائے مغفرت) ډېره کيږي او د يخنۍ شپې اوږدې وي نو د شپې په اوله حصه کښې د ختم کولو په صورت کښې به استغفار زيات کيږي.

## که الله پاك اُوغواړي

حضرت سَيِّدُنا اَبُو سُلَيمان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حج په سفر کښې يو بزرګ اوليدوچې په سخته يخنۍ کښې ئې زړې جامے اغوستې دي او په خوَله کښې ډوب دے دوئي ترينه د دې حال په باره کښې تپوس اوکړو، نو هغوئي اوفرمائيل چې ګرمي او يخني خو د الله پاك دوه مخلوقه دي، که الله پاك حکم اوکړي چې يخني او ګرمي په ما باندې اثر اوکړي نو بيا به ضرور زما يخني او ګرمي کيږي او که الله پاك حکم اوکړي نو يخني او ګرمي به ما ته رانزدې هم نه شي. هغه بزرګ نور اوفرمائيل چې: زه د ديرشو کالو نه په دې ځنګل کښې يم، الله پاك په سخته يخنۍ کښې ما ته د خپل محبّت ګرمي راکوي او په ګرمۍ کښې راته د خپل محبّت يخوالے راکوي. (لطائف المعارف، ص[illegible]. اسلامی مہینوں کے فضائل ص[illegible])

محبت غیر کی دِل سے نکالو یا رسولَ اللہ　　　مجھے اپنا ہی دِیوانہ بنالو یا رسولَ اللہ

## اَفضل عمَل

**اے عاشقانِ رسول!** منقول دي چې: د یخنۍ په موسم کښې په غریبانانو باندې د یخنۍ لرې کولو والا څیزونه اِیثار کول [یعني د خپل ضرورت باوجود هغوئي ته ورکول] ډیر د فضیلت والا عمل دے. (لطائف المعارف، ص۳۸۳) الله پاك په قرآن کریم کښې شپږمه سیپاره سورۃُ المآئدہ، آیت نمبر 32 کښې اِرشاد فرمائي: **وَ مَنْ اَحْیَاهَا فَكَاَنَّمَاۤ اَحْیَا النَّاسَ جَمِیْعًا** ؕ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او چا چې یو نفس ژوندے کړو (یعني د قتل نه ئي بچ کړو او ژوندے ئې اوساتو) داسې ده لکه هغه چې ټول انسانان ژوندي [یعني د قتل کیدلو نه بچ] کړل.

امام فخرُ الدِّین رازي رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: د "**وَمَنْ اَحْیَاهَا**" نه مراد دا دے چې چا یو انسان د هلاك کوونکو څیزونو لکه د سوَزیدلو، ډوبیدلو، د ډیرې زیاتې لوَږې او د ډیرې زیاتې ګرمۍ یا یخنۍ [چې د هغې نه د هغه د مرګ خطره وه د هغې] نه نجات ورکړو نو ژوندے ئې کړو. (تفسیر کبیر، المائدہ تحت الآیة: ۳۲، ۳۴۴)

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں　　بچانا ظُلم و سِتَم سے مجھے سَدا یارب
رہیں بھلائی کی راہوں میں گامزن ہر دَم　　کریں نہ رُخ مِرے پاؤں گناہ کا یارب

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!**　　**صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## په سخته یخنۍ کښې قمیص صدقه کول

عظیم تابعي بزرګ حضرت سُلیمان رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: د مُلكِ شام اوسیدونکے یو کس ما ته راغلے او اُوئې وئیل چې ما ته د حضرت صَفوان بن سُلَیم زُهري رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه مُتَعَلِّق اووائې، ما هغوئي اولیدلو چې جنّت ته داخلیږي. هغوئي نه تپوس اوشو چې د کوم عمل په سبب؟ هغوئي اوفرمائیل: چا ته د یو قمیص اغوستلو په سبب. حضرت

سَیِّدُنا صَفوان بن سلیم زهري رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه ته چا د هغه قمیص تذکِره اوکړه نو هغوئي اوفرمائيل: ”یو ځل زه په سخته یخنۍ کښې د جمات نه اُووتلم نو په یو بربنډ کس مې نظر پریوتلو، ما خپل قمیص اوښکلو او هغه ته مې واغوستلو.“ (حلية الاولياء، رقم ۳۵. اسلامی مہینوں کے فضائل ص ۱)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نیك وزیر

مخلوقِ خُدا سره د ښه سُلوك کوَلو واقِعه وَاورَئ: یو وزِیر ته اُووَئیلے شو چې د یوې ښځې خلور یتیمان بچي بربنډ او اُوږي دي. وزیر یو کَس ته حُکم اُوکړو چې فوراً لاړ شه او د هغوئي د ضرورت کپړے او خوراك هغوئي ته اُورَسَوه. بیا وزیر خپل (ګرم لباس) اوښکلو او قسم ئې اوخوړو چې، قسم په خدائے! زه به د هغه وَخته پورې (ګرم لباس) لباس نه اغوندم او نه به [د اور وغیره په ذریعه] ځان تودَووم تر څو چې دا سړے واپس رانشي او ما ته دا اَحوال اُو نه وائي چې هغه یتیمانو ته جامے واغوستلے شوې او هغوئي په خوراک ماړه شو. چنانچې هغه سړے چې واپس راغے او اُوئي وئیل چې هغه یتیمانو جامے واغوستلي او په خوراک ماړه شو، نو هله هغه نیك وزیر خپلې [ګرمې] جامے واغوستلې، تر دغه وخته پورې هغه نیك وزیر د یخنۍ نه رپیدلو. (لطائف المعارف، ص ۲. اسلامي مهینوں کے فضائل، ص ۱)

مختصر سی زندگی ہے بھائیو! نیکیاں کیجئے، نہ غفلت کیجئے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **الله** پاك نيكانو بندګانو به د ثواب يوه موقع هم د لاس نه نه ضائع كوله. لكه څنګه چې تاسو اُوس په دې واقعه كښې اوكتل. د **الله** پاك د نعمتونو نه يو عظيم نعمت لِباس هم دے، په لِباس كښې ډير صفتونه دي، ستَر پوشي (يعني د شرم ځايونه پټول)، زينت [يعني ډول]، د يخنئ او ګرمئ نه بچ كيدل او د لـمانځه ادائيګي لهٰذا دا دَ عظيمُ الشّان نعمتونو نه يو دے. (مرأةالمناجيح، ج، ص) څنګه چې مونږه خپل ځان د سَختې يَخنئ يا ګرمئ نه د بچ كولو كوشش كوو، كاش چې! د خپلو ګير چاپيره ګاونډيانو، خپلو خپلوانو هُم په سخته يخنئ كښې خيال اوساتلے شي، هغوئي ته هُم ګرم لِباس او برستنې كمبلې وغيره وركړے شي بلكه په بے زبانه ځناورو باندې هُم رَحَم كول پكار دي ځكه چې دا خواران به خپل تكليف او مُصِيبت چا ته بيان كړي؟ څه پته ده كه زمونږه د دوئي سره ښه سلوك د **الله** پاك په بارګاه كښې قبول شي او هغه زمونږ د مغفرت سبب جوړ شي لكه څنګه چې حضرت (سَيِّدُنا شيخ ابوبكر) شِبلي (بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) د وفات نه پس چا په خوب كښې اُوليدلو نو هغوئي ارشاد اوفرمائيل: **الله** پاك زه په خپله بارګاه كښې اُودرَوَلَم او اُوئې فرمائيل: تا ته پته ده چې ته ما ولې اوبخښلې؟ ما خپل هغه نيك عملونه يادوَل شروع كړل چې د بخښنې سبب جوړيږي، **الله** پاك ارشاد اوفرمائيل: ما د دې عملونو نه په يو عمل هُم ستا بخښنه نه ده كړې. ما عرض اوكړو: اے زما خوږه ربه! بيا تا زه په څه څيز باندې اوبخښلم؟ ارشاد ئې اوفرمائيل: يو ځل ته د بغداد په كوڅه كښې تيريدلې او يوه پيشو دِ اوليدله چې هغه يخنئ كمزورې كړې وه، په هغې ستا زړه خُوګ شو او په خپله جُبَّه (يعني كپړو) كښې دِ ځان سره پټه كړه چې د يخنئ نه بچ شي لهٰذا په پيشو باندې د رحم كولو په سبب نن ما په تا باندې رحم اوكړو. (حيٰوة الحيوان) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

کاش عطار سے فرمائیں قیامت میں حُضُور　　لے مبارک کہ تجھے بخش دیا جاتا ہے

کاش عَطّار ته قیامت کښې اُوفرمائي حُضُور　　شه مبارک دِ ستا بخښنه پاک الله اوکړله

## ایمان تازه کوونکے ارمان

د الله پاك ولي حضرت عامر بن عبدُ القيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ژړا ژړا کښې په دې کلِماتو وئيلو وئيلو کښې وفات شو: زه د مرګ د ويرې يا د دُنيا د محبّت په وجه نه ژاړم، بلکه زه په دې خيال کښې ژاړم چې زه اوس وفات کيږم اوس به د ګرمئ په روژو کښې د غرمے هغه تنده او د يخنئ په شپو کښې هغه قِيامُ اللّيل (يعني د شپې عبادت) او د هغې خوند ماته کله او څنګه نصيب کيږي؟. (آئينۀ عبرت، ص ۵۳)

اے عاشقانِ رسول! **په يخنئ** کښې خصوصاً د سَحَر او ماسخُتن لـمونځ په نفسِ امّاره باندې مُشکِل وي او افضل عمل هغه دے په کوم کښې چې تکليف ډير وي. حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: افضل عمل هغه دے چې په هغې باندې نفس مجبوره کړے شي. حضرت صَفوان بن سُلَيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په ګرمئ کښې په کوټه کښې دننه او په يخنئ کښې د چت د پاسه لـمونځ کولو چې خوب رانشي. او هغوئي د سجدے په حالت کښې وفات شولو. (ذم الهوٰي، ص۶۰) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ　　گناہوں سے ہر دم بچا یا الٰہی
عبادت میں گزرے مری زندگانی　　کرم ہو کرم یا خُدا یا الٰہی
مسلماں ہے عطار تیری عطا سے　　ہو ایمان پر خاتمہ یا الٰہی

# د يخنۍ نه د حفاظت څو مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ پيړے جُرابے، موزے او د بوټانو استعمال کوئ.

﴿۲﴾ (که کيدے شي نو کورنۍ) ويشيدلي هګۍ خورئ. (ضرورتاً د ډاکټر د مشورے مطابق )

﴿۳﴾ حَتّي الامکان څه وخت نمر ته کښينئ.

﴿۴﴾ د نزلے، زکام کيدلو په صورت کښې [د ټينکچر بينزوئن وغيره] بړاس [بهاپ] اخلئ.

﴿۵﴾ په پوندو او شُونډو د چاودَلو نه بچ کولو د پاره ليکوډِ ګلِسرين او ويسلين اِستعمالوئ. (ماهنامه فيضانِ مدينه ربيع الأخر۱۴۳۸ھ، ص۷ بتغيير)

# د هيټر په اِستعمال کښې احتياط

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! شيخِ طريقت اميرِ اهلِسنّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رَضَوِي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: که هيټر لګوئ نو زما **مشوره** دا ده چې کله کوټه ګرمه شي نو د اُوده کيدلو نه مخکښې هيټر بند کړئ ځکه چې کوټه ګرمه شي نو بيا د بلَوَلو ضرورت نِشته او په نه بَندوَلو کښې خطره هم ډيره ده. بعضې خلق هيټر اولګوي او کمره بَنده کړي او اوده شي دا يو د خطرے والا کار دے ځکه بعضې وخت کښې ګيس ليك کيږي او چې چا ته پته نه وي [چې ګيس لِيک دے نو بيا] د هغې په وجه حادثه پيښيږي. په اخبارونو کښې داسې ډير خبرونه چاپ کيږي چې هيټر نه د ګيس ليك کيدلو په وجه دهماکه اُوشوه او دومره خلق

پکښې مره شو. دا احتياط صِرف د ګيس والا هيټر استعمالوَلُو والؤ دپاره نه دے بلکه که د بجلئ والا هيټر وي نو په هغې کښې هم د اُور لګيدلو خطره وي لهٰذا هغه هم بندوَئ او اوده کيږئ. (سردي سے بچنے کے طریقے، ص۳)

## خپلو بچو باندې دا خُورَئ

د صِحت د پاره خطره جوړيدونکي خوږے او تراوے ګولئ او ټافيانې وغيره [ماشومانو ته مه ورکوئ] د دې په ځائے خپلو بچو ته د هغوئي د عمر په لحاظ په مناسب مقدار کښې يا د ډاکټر د مشورے مطابق شنې ميوے او وچې ميوے ورکوئ او تاسو په خپله هم د الله پاك عطا کړو دې نعمتونو نه فائده اخلئ. د يو څو وچو ميوو فائدے ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم:

## بادام

﴿۱﴾ هر قِسم **بادام** د کوليسټرول نه پاك وي ﴿۲﴾ تراخه بادام يا ايراني بادام د ”کينسر“ د مخ نيوي خصوصيت لري ﴿۳﴾ په **بادامو** کښې ”کيلشيم“ وي چې هغه د هډوکو د پاره ضروري دي ﴿۴﴾ **بادامو** خوړلو سره تيزابييت لرې کيږي او د زړه د مرضونو خطره ورسره کميږي. (5) **بادام** د ويښتو او خرمن د پاره فائده مند وي او رنګ هم ښائسته کوي. (بیٹا ہو تو ایسا ص ۳۴،۳۳)

زیادہ گر دماغی ہے تیرا کام
تو کھایا کر ملا کر شہد بادام

## پِسته

**پِسته** زړه او دِماغو ته طاقت ورکوي. بدن پیړوي او د پښتورګو [ګُردو] کمزوري لرې کوي. ذِهن او حافِظه مضبوطوي. د توخي د علاج د پاره **پِسته** فائده منده ده.
(بیٹا ہو تو ایسا ص ٣٦)

## کاجُو

کاجُو جسم ته غذائیت او دِماغو ته طاقت ورکوي. بدن پیړوي. په نَهَره د شهدو سره کاجُو خوړل دافِع نِسیان دي (یعني د هیریدو بیماري لرې کوي). د برص (سپین داغ) يو مريض صرف کاجو په کثرت سره خوړلو سره صحت ياب شو. (بیٹا ہو تو ایسا ص ٣٦)

## مونګ پلـي

د مونګ پلـي په چغزو کښې ډیر زيات غذائيت وي. مونګ پلـي په خپلو فائدو کښې د کاجُو او غُوزانو نه کم نه دي. د مونګ پلـي تيل د زيتونو [يعني د ښونانو] د تيلو بهترين بدل دے. (بیٹا ہو تو ایسا، ص ٣٧)

## غوزان

غوزان بدهضمي ښه کوي، د غوزانو سره کړي [یعني په اور پاخه شوي] مغز د یخنۍ په توخي کښې فائده مند دي. د غوزانو مغز چې په خُله کښې اوجوول شي او په سپونړي اولګول شي نو د سپونړي داغ ورسره لرې کیږي. (بیٹا ہو تو ایسا، ص ٣٩)

## اینځـران

په حديثِ پاك کښې دي چې: اینځران خورئ! ځکه چې دا بواسير ختموي او نقرس (یعني يو قِسم درد چې په پوندو او ګوتو کښې وي په هغـے کښې) فائده مند دي.
(الطب النّبوی لِاَبی نُعَیم ص حدیث مُلَخّصاً)

❁ په اينځرانو کښې د نورو ټولو ميوو په مقابله کښې بهتر غذائيت دے ❁ اينځران بواسير ختموي او د جوړونو د درد د پاره فائده مند دي ❁ په نَهَره د اينځرانو خوړلو عجيبه عجيبه فائدے دي ❁ اينځران غټه خيټه وړه کوي او پيړوالے ختموي ❁ په اينځرانو کښې د ټوخي او دمے علاج دے ❁ اينځران د مخ رنګ صفا کوي ❁ اينځران تنده ماتوي. (بیٹاہوتوایسا ، ص تا ماخوذاً)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## نیك او لــسونغ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کيدونکې د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ⭑ د سُنَّتو د تربيَت د پاره مَدَنِي قافلو کښې عاشقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ⭑ هره ورځ د "فِکرِ مدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَنِي قافلو" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com